مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکتر مجب زغم

۲۰۲۳/۰۲/۰۱

جمیل او ښاپیرۍ

د ماشومانو لپاره کیسه

جمیل خپل موټرګی په لاس کي نیولی و او پر تاخچه یي ګرځاوه. د هغه پلار دریشي اغوستي وه چي وظیفي ته لاړ شي. د جمیل موټرګي ته یي پام شو چي د شا ټیر یي نه و او یوه دروازه یي ماته وه. هغه ورته وویل: جمیله! دا موټر دي ولي مات دی؟
جمیل غلی و. سر یي ټیټ نیولی و.
مور یي وویل: دی خپل شیان سم نه ساتي. سیما وګوره چي خپله نانځکه یي څومره ښه ساتلي ده.
سیما موسکی شوه. مور یي پر سر باندي لاس ورټیر کړ.
جمیل ورته بد بد وکتل.
کله چي پلار یي له کوره وته، جمیل ته یي وکتل. د هغه سر ځوړند و. هغه خپه و.
مور یي رېږ راواخیست چي کوټه جارو کړي.
جمیل او سیما انګړ ته راووتل.
سیما خپله نانځکه په برنډه کي د کړکۍ پر چوکاټ باندي کښوده. پخپله د انګړه بر سر ته لاړه چي د میرګاټي لپاره وړي تیږي راټولي کړي.
جمیل کرار کرار برنډي خوا ته ورغی، سیما ته یي وکتل. د هغي ورته پام نه و. نانځکه یي راواخیسته او د بام سر ته یي ګوزاره کړه.
بیا یي خپل موټرګی راواخیست، غلی روان شو. د انګړ په بل سر کي د مني تر وني لاندي کښناست. د وني څنګ ته په لښتي کي یوه لویه ډبره وه. جمیل خپل موټرګی پر ډبري باندي کښنود. بله تیږه یي راواخیسته، موټر یي خچ پچ کړ. شاوخوا ته یي وکتل. د هیڅا پام ورته نه و. د موټر ټوټي یي په لښتي کي تر خټو لاندي پټي کړي.
له هغي خوا یي د مور غږ واورېد چي ویل یي: جمیله! هلته څه کوي؟
جمیل ودرېد. خپل لاسونه یي شا ته ونیول. رنګ یي تښتېدلی و. زړه یي ټکان کاوه. وېرېده چي اوس مور ورباندي پوهه نه شي.
مور یي وویل: دلته راشه، هله ژر کوه.
دی چي ورنژدي شو، مور یي پوښتنه وکړه: دا لاسونه دي ولي شا ته نیولي؟
جمیل په وېرېدلي غږ ځواب ورکړ: هیڅ، هیڅ، همداسي. هلته، هلته مي پښه بنده شوه، په لښتي کي ولوېدم.
مور یي ورته وویل: هله، ژر کوه، تشناب ته لاړ شه. صابون راواخله، لاسونه دي پاک پرېمینځه.
جمیل په تشناب کي و چي د سیما غږ یي واورېد: موري! زما نانځکه، نانځکه مي نشته. زما نانځکه څه شوه؟
مور یي پوښتنه وکړه: چېرته دي ایښي وه؟
سیما وویل: دلته، د دي شیشي شا ته.
هغوی ټول کور په نانځکي پسي وکوت، خو پیدا یي نه کړه. اخر سیما په ژړا سر شوه.
سیما له جمیل څخه پوښتنه وکړه: تا نه ده لیدلي؟
جمیل وویل: نه، نه، ما خو نه ده لیدلي.
جمیل خوشاله و چي د خور نانځکه یي ایسته غورځولي وه او څوک ورباندي خبر شوي هم نه وو. له کوره ووت. په کوڅه کي یي منډي وهلي او دا سندره یي ویله:

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

نانځکه يې ده ورکه
نانځکه يې ده سپکه
نه پورته په آسمان کې
نه ښکته ده په ځمکه
اوس ګرځه پسې ګرځه
لوټلي ده پرې ټکه

مازديګر چې پلار يې کور ته راغی، په لاس کې يې کڅوړه وه. کڅوړه يې جميل ته ورکړه. هغه پوښتنه وکړه: پلاره دې کې څه شی دی؟
پلار يې وويل: پخپله يې وګوره.
جميل چې د کڅوړې منځ ته وکتل، په خوشحالی سره يې چيغه کړه: واه واه، څومره ښکلی موټر!
سيما په ژړا وويل: پلاره! ولې دې ما ته نانځکه نه ده راوړې؟ زما نانځکه خو ورکه شوه.
پلار يې هغه په غېږ کې ټينګه کړه. تندی يې ښکل کړ. ويې ويل: خير دی لورکی. سبا به بله درته راوړم.
خو سيما خپه وه.
جميل له خپل موټر سره په لوبې پيل وکړ. څو شېبې وروسته يې سيما ته وکتل. هغه خپه ناسته وه. ځان ورياد شو چې دی هم سهار همداسې خپه و. خپل کارونه هم ورياد شول. په خپلو کارونو پښېمانه و. په خور باندې يې زړه سوځېده. خو نه پوهېده چې څنګه ورته ووايي. هغه ډارېده چې مور او پلار ورته په غوسه نه شي.
جميل په همدې چورت کې و چې مخې ته يې د مچۍ په اندازه يوه ښکلې ښاپيرۍ کښناسته. اوږده طلايي ويښتان، شنې سترګې، زر زړي کميس، شيشې غوندې روښانه وزرونه يې وو. ښاپيرۍ پوښتنه وکړه: ولې پلار ته دې ريښتيا خبره نه کوې؟
جميل شاوخوا ته وکتل. د نورو ورته پام نه و. ښاپيرۍ يوازې ده ته ښکارېده. په ټيټ غږ يې وويل: ډارېږم.
ښاپيرۍ وويل: له څه شي؟
جميل وويل: ډارېږم چې پلار راته په غوسه نه شي.
ښاپيرۍ وويل: زه به يې چاره وکړم.
ښاپيرۍ والوته. د جميل د پلار خوا ته ورغله. په يوه غوږ يې ننوته او له بل غوږه يې راووته. بېرته راغله د جميل پر اوږه کښناسته. موسکه شوه، ويې ويل: ورځه ګرانه! اوس دې پلار ته ټوله کيسه وکړه. هغه به درته هېڅ ونه وايي.
جميل لا هم ډارېده. خو د ښاپيرۍ خبره يې ومنله. د پلار مخې ته کښناست. سر يې ټيټ نيولی و. پلار يې وويل: بچيه! سر دې پورته کړه، بيا ولې خپه يې؟ موټر خو مې درته راوړ.
جميل وويل: پلاره! ما نن دوه بد کارونه کړي دي.
پلار يې ارام وويل: څرنګه بد کارونه؟
جميل د هغه په غوږ کې وويل: ما سهار د خورکۍ نانځکه د بام سر ته واچوله. خپل موټر مې هم ټوټې ټوټې کړ.
پلار يې هغه تر لاس ونيو، انګړ ته يې بوت. پوښتنه يې وکړه: نانځکه دې چېرته غورځولې ده؟
جميل د کړکۍ سر ته اشاره وکړه، ويې ويل: دغه ځای نه مې بام ته خطا کړه.
پلار يې پورې راواخيسته. بام ته وخوت. د سيما نانځکه يې راکښته کړه. بيا يې جميل ته وويل: اوس نو ورشه له خورکۍ دې بخښنه وغواړه.
جميل نانځکه خپلې خور ته ورکړه. بيا يې ټوله کيسه ورته وکړه. سيما خوشحاله شوه او د جميل ګناه يې وبخښله.
ښاپيرۍ راغله د جميل پر اوږه کښناسته. ويې ويل: افرين! زه به دې ملګرې شم. هر څوک چې ريښتيا وايي، زما خوښېږي.
جميل پوښتنه وکړه: ته بيا هم راځې؟
ښاپيرۍ موسکه شوه، ويې ويل: ولې نه.
بيا يې جميل ښکل کړ او والوته.

د درېيمې کټګورۍ ماشومانو لپاره کيسه
ليکوال: محب الله زغم

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ